# له پلازمينې څخه يو انځور

## د کابل د ښاري سيمې د حالاتو او فضايی نقشې اخيستلو څېړنه

په دې توضيحي سند کې د کابل ښار په سيمه کې د ځمکې او استوګنې په باب اټکلي ارقام د افغانستان د ښارونو له راتلونکي برنامې (FoAC) څخه وړاندې شوي دي، په هغو کې ښودل شوي چې په کابل ښار او شاوخوا کی يی د پام وړ ساحه د کرنې لپاره ده. د استوګنې له ځمکو څخه د استفادې له مخې داسې څرګند ېږي چې د کابل نفوس په اټکلي ډول ۶ میلیونه دی چې د افغانستان د ټول نفوس۲۰ ٪ جوړوي. پردې اساس نوموړي ارقام په راتلونکي لسيزه کې د پلان جوړونې او ښارى سيمې د فضا اداري اهميت د پلازمينې په سيمه کې د ښار جوړونې د اغيزمنې لارښوونې لپاره څرګندوی.

۷مه شمېره توضيحي سند،۲ مه لړۍ، مارچ - ۲۰۱۶ ز کال

### د انځور تشکيل

د دې لړۍ په ۱ شمېره سند کې ( دښار او کلی ترمنځ د توپير ماتول) تر عنوان لاندې د ښار په پرتله د کليو له معمولی لرليد څخه لوړ، د ښاري کولو د انځور په باب بحث شوی دی. په ۲ شمېره سند کې وښودل شو چې د ولسواليو ډېرى ښاروالی د افغان د بشري استوګنی د جوړښت مهمې برخې په ځانګړې توګه د افغانستان په پنځو ښاري عمده سيمو کې تشکيلوې، او په۶ سند کې ترانسپورټ د کابل او د هغه د ګاونډيو ولايتونو ترمنځ اړيکې او لېږد چې هره ورځ ۲۰۰۰۰۰ سفرونه د کابل ښار ته دننه او له هغه څخه بهر صورت نيسي ،ښودل شوي دي.

### د تصميم نيونې لپاره ارقام

په دې توضيحي سند کې وړاندې شوي ارقام د افغانستان د ښارونو له راتلونکې برنامې څخه چې په اوس وخت کې يې د تطبيق بهير روان دی، اخيستل شوي دي . دغه سند د ورته پېژندنې د کړنې پر بنسټ چې په )۲۰۱۵ ز کال کې د افغانستان د ښارونو د وضعيت له برنامې ( څخه اخيستل شوي دي چې په هغه کې د نويو او په لوړ وضاحت د سپوږمکۍ تصويرونه د اسکان/ميشته کيدنی او له ځمکې څخه د استفادې ( کرنيزه، استوګنه، سوداګريزه، واټونه او داسې نور) په هکله تحليل کېږي . پايله به يې د ښاري سيمو په باب لومړني ارقام وي چې په دې سيمو کې به د برنامو د طرحې، د ښاري سيمو د ادارې او د سترو زيربناو يا بنسټونو اصلاح وي او نېغ په نېغه به د ښاري لومړيتوبونو د برنامې(U-NPP) د پراختيا او پرمختيا ملاتړ وکړي.

### موندنې

د کابل د ښاري سيمې اټکلي ارقام او موندنې په راتلونکو دوو مخونو کې وړاندې کېږي .

• د کابل ښار سيمه چې په هغې کې کابو ۶ ميليونه وګړي ژوند کوي، د هيواد د پنځمې برخې نفوس لپاره د استوګنې سيمه د ه.
• که څه هم چې کابل ښار داصلي مرکزپه توګه پاتې شوی، دښار د شپږو ميليونو وګړو ۴۰ سلنه په ښارګوټو او د مرکز په شاوخوا کليو کې ژوند کوي.
• له دې سره سره چې کابل ښار د استفادې زياتره موارد د استوګنې (۵۱٪) ،رسمي(۷۱٪) او سوداګريز(۷۲٪) په ښارى سيمه کې له ځان سره لرى. ، د کابل ښار کرنه او زرغونه فضا د هغه له کليوالي سيمو سره تړاو لري.
• تشې قطعې نه يوازې د ښارونو د اداري حدودو په سيمو کې زياتې شتون لري، بلکې په ښاري سيمو کې هم شتون لري. د کابل ښار په سيمه کې د۲۰۵۰۰ هکتار په اندازه تشې قطعې شتون لري(له ځمکې څخه د استفادې ټول موارد (۴۵٪) چې کابو د ۲.۵ تر ۳ ميليونو نورو وګړو د استوګنې لپاره معادل ځمکه ده.

دغه کار خبرو اترو او د شته رواياتو د بيا جوړښت ملاتړ ته اړتيا لري:

• د کابل ښار د اصلي محرک په توګه او د هغه شاوخوا ښاري سيمو ترمنځ د اقتصاد او ښاري ملي فرهنګ ورځ تربلې زياتيدونکی تړاو شتون لري،
• دا يوه ښاري کليوالي موضوع نه ده اداري واحد له ځمکې څخه د استفادې يا دندو له مواردو سره سمون نه لري.
• د ځمکې د شته تشو قطعو په شمول کافي ځمکه، د راتلونکو لسيزو د ودې لپاره شتون لري.
• د ولايتونو او ښاروالیو ترمنځ د همکارۍ باالقوه ارزښت، د کاري مناسباتو پر بنسټ.

### چوکاټ ۱: د کابل د ستربښار ګډه اعلاميه

۱.د پلازمينې او ښارګوټو د دوامدارې پرمختيا او ودې لپاره د کابل د ستر ښار همکاري او اداره لازمه ده.

۲ په رسمي توګه د کابل ښار د لومړني ستر انجمن د رامنځته کېدو او د دريو مياشتنيو غونډو جوړول چې د فني دارالانشا له لوري ترتيبېږي جدي اړتيا شته.

۳. د دې ستر ښار اصلي شريکان بايد د مرکز او ولاياتونو دټولو مقاماتو، ښاروالیو او ادارو او دغه راز پوهنتونونو، مدنې ټولنې او سوداګريزې ټولنې تشکيل شوي وي.

۴. ستر انجمن به له هغومسالو سره چې واقعآ ستر ښاري ماهيت لري او په سمه توګه په مرکزي يا سيمه ييزه کچه هغو ته رسېدنه نه شي کېدای، لکه د ښاري ودې مديريت، په ښار کې د نوې پراختيا، ترانسپورټ او ښاري ستر لېږد رالېږد، د عامه ترانسپورټ، ښاري چاپېريال په شمول د سيندونو او اوبو، تالابونو، سترو پارکونواو د ځنګلونو د بيا رغونی، ښاري زراعت او غذايي خونديتوب، سيمه ييز توريزم او د فرهنګي او طبيعي ميراثونو له ساتنې سره سروکار ولري.

۵. د کابل ښار د ستر انجمن د عملي کولو لپاره به د يوه ګډ ليدلوري او د ودې د مديريت برابرول، او د تطبيق وړ ښاري سترو پروژو په ګوته کول، له ښاريانو سره د اړيکو او د ښار د ستر انجمن د اداري لپاره د لارې د نقشې برابرول، اود ښار د رسمي ادارې او د خدمتونو وړاندې کول او د ښار د سترو عايداتی ادارو جوړولو ته له ۱۲ څخه تر ۱۸ مياشتو پورې وخت ضرورت وي.


۶. د ښار په يوه ستره غونډه کې به د ښاري پرمختيا وزارت ، د سيمه ييزو ارګانونو د مستقله اداره،د ښاروالیو د چارو لوی رياست په لارښوونه به د جلالتماب جمهور رئيس د وروستۍ غوښتنې په باب د کار د ډېرې ښې بنې په اړه تصميم ونيول شي.












د ۲۰۱۶کال د مارچ ۸



[1]GoIRA (2016) Breaking the Rural-Urban Divide. Discussion Paper #1, Series Two; GoIRA: Kabul
[2]GoIRA (2016) Breaking the Rural-Urban Divide. Discussion Paper #1, Series Two; GoIRA: Kabul
[3]UN-Habitat (2015) Understanding Urbanisation. UN-Habitat: Kabul. http://unhabitat.org/understanding-urbanisation-monitoring-urban-dynamics-in-a-fragile-and-resource-constrained-context-discussion-paper-9/

[4]The first Kabul Metropolitan Conference was held on 21 December 2015, hosted and chaired by the Kabul Mayor, and attended by MUDA, IDLG/GDMA, Arazi, DCDA and the Mayors of Charikar, Mahmood-Raqi, Maydan Shahr and Pul-i-Alam. The second Kabul Metropolitan Conference was held on 8 March 2016, jointly chaired by Kabul Governor, MUDA Minister and IDLG/DMM.


جبل سراج/ جبل سراج Jabl-ul-Siraj
چاریکار/ چاریکار Charikar
محمود راقی/ محمود راقی
Mahmod Raqi
Kapisa Province
ولایت کاپیسا/د کاپیسا ولایت
ولایت پروان/د پروان ولایت
Parwan Province
میربچه کوت/ میربچه کوټ Mir Bachakot
شهر کابل جدید/نوی کابل ښار
Kabul New City
قره باغ/ قره باغ Qarabagh
شکردره/ شکردره Sharkardara
شهر کابل/کابل ښار
Kabul City
میدان شهر/ میدان ښار
Maidan Shahr
Wardak Province
ولایت وردک/ د وردک ولایت
Logar Province
ولایت لوگر/د لوگر ولایت
Pul-i Alam پل علم/ پل علم

| | موقعیت/ځای Location | Land Area ساحه اراضی/ د ځمکی ساحه<br>Total Area (ha)<br>مجموع ساحه (هکتار) | Total %<br>فیصدی/ ټول سلنه | Landuse Profile مشخصات استفاده زمین / د ځمکی څخه کټه اخستلو پیژنځیر | stimated total population<br>فیصدی نفوس<br>ټول نفوس اټکل |
|---|---|---|---|---|---|
| Provincial Municipalities شاروالی های ولایتی / ولایتی ښاروالیانی | Kabul City<br>کـابل/کـابل | 103,049<br>۱۰۳۰٤۹ | 25% |  | 58%<br>٪٥٨ |
| | Charikar<br>چهاریکار/ چهاریکار | 3,025<br>۳۰۲٥ | 1%<br>٪۱ |  | 1.6%<br>٪۱,٦ |
| | Mahmood Raqi<br>محمود راقی/ محمود راقی | 3,970<br>۳۹۷۰ | 1%<br>٪۱ |  | 0.8%<br>٪۰,۸ |
| | Pul-i Alam<br>پل علم/ پل علم | 3,752<br>۳۷٥۲ | 1%<br>٪۱ |  | 0.4%<br>٪۰,٤ |
| | Maidan Shahr<br>میدان شهر/میدان ښار | 3,347<br>۳۳٤۷ | 1%<br>٪۱ |  | 0.2%<br>٪۰,۲ |
| District Municipalities شاروالی های نواحی / ولسوالی ښاروالیانی | Jabl-ul-Siraj<br>جبل سراج/ جبل سراج | 2,547<br>۲٥٤۷ | 1%<br>٪۱ |  | 0.6%<br>٪۰,٦ |
| | Mir Bachakot<br>میربچه کوت/میربچه کوټ | 2,514<br>۲٥۱٤ | 1%<br>٪۱ |  | 0.6%<br>٪۰,٦ |
| | Sharkardara<br>شکر دره/ شکر دره | 4,755<br>٤۷٥٥ | 1%<br>٪۱ |  | 0.8%<br>٪۰,۸ |
| | Qarabagh<br>قره باغ/ قره باغ | 3,352<br>۳۳٥۲ | 1%<br>٪۱ |  | 0.8%<br>٪۰,۸ |
| KNC کابل جدید/نوی کابل | Kabul City<br>کابل جدید/نوی کابل | 59,210<br>٥۹۲۱۰ | 15%<br>٪۱٥ |  | 3%<br>٪۳ |
| Non-Urban غیر شهری / غیر ښاری | Non-Urban<br>غیر شهری/ غیر ښاري | 217,484<br>۲۱۷٤۸٤ | 52%<br>٪٥۲ |  | 33.2%<br>٪۳۳,۲ |

Barren land زمین بایر/ شاړی ځمکی
Water آب/ اوبه
Forest جنگل/ ځنګل
Green areas فضای سبز/ شنه ځایونه
Agriculture زراعتی/ کرهنیزې
Buildings under construction ساختمان های در حال ساخت/ تعمیرونه د جوړیدو په حال کې
Vacant plots نمرات خالی/ خالی نمری
Roads/streets سرک/ راه/ سړک/لاره
Transport ترانسپورت/ ترانسپورټ
Industrial صنعتی/ صنعتی
Institutional دولتی/ دولتی
Commercial تجارتی/ سوداګریز
Residential مسکونی/ استوګنی

[5]See 'The State of Asian and Pacific Cities', UN-Habitat, October 2015
[6]See also 'Unpacking Metropolitan Governance for Sustainable Development', GIZ/UN-Habitat, 2015

# له پلازمیني څخه یو انځور

## د تاریخي نظر د یووالي رامنځته کول

په تیرو دریو میاشتو کې د ښاري پرمختیا وزارت، د ښاروالیو معینیت او کابل والي د جلالتماب جمهور رئیس غني په غوښتنه د کابل ښار د سیمې په لید لوري کې د رامنځته کولو د بهیر لارښوونه وکړه. د کابل ښار ستر نوښت د ښاري لومړیتوب د ملي برنامې د مخکښې پروژې په توګه چې په اوس وخت کې د هغې برابرول روان دي وټاکل شوه.

یو لړ غونډې او کنفرانسونه جوړ شول څو د ښاري سیمې د پلان جوړونې او ښې اداري لپاره له (ښکته لوري څخه لوړ لوري ته ) بهیر له لارې مشخصه شي. په وروستي کنفرانس کې چې د ۲۰۱۶ز کال د مارچ په ۸مه نیټه جوړ شو، د کابل ټولو کاونډیو ولایتونو والیانو، د والیانو مرستیالانو او ښاروالانو ګډون درلود.

په اعلامیه کې له دې کنفرانس څخه ترلاسه شوې پایلو د کابل ښار په یوه داسې ستر انجمن پر رامنځته کولو ټینګار وشو. چې وکړای شي په ښاري سیمه کې د یوه جامع پلان جوړونې او پانګه اچونې ملاتړ وکړي. (په جدول – کې دې وکتل شي). دا یوه ستره لاسته راوړنه ده چې د لومړي ځل لپاره د ستر افغانستان

په تاریخ کې له اداري لیدلوري څخه ښار یا ښاري سیمه په نظر کې نیول شوې ده. دغه ګزینې به په مفصله توګه په راتلونکي توضیحي سند کې وړاندې شي.



### چوکاټ ۲: له نورو هېوادونو او ښاري سیمو سره پرتله

د کابل ښاري سیمه د اسیایي زیاترو سیمو په څېر له دې سره لاس او ګرېوان ده چې په څه ډول نه کنترول شوې چټکه اقتصادي وده او پرمختیا، ټولنیزه پیچلتیا او پراګندګي او د خپل چاپېریال اغیزې په ښه توګه مدیریت کړي. ځینې درسونه چې په اسیا کې د نورو ښارونو له سیمو او نورو بهرنیو هېوادونه څخه زده شوي دي د لاندې موارد وړاندیز کوي.

- د ښاري ادارو د پرمختګ په مدیریت کې باید په ټولو کچو کې د دوی عمده مسئولیت د حکومتوالي د خدمتونو په وړاندې کولو کې یو ځل بیا مشخص شي. څو د ښارونو د اړوندو سیمو د پیچلتیا او ودې په پام کې نیولو سره، حکومتونه باید هڅه ونه کړي چې هرڅه تر سره کړي. د هغه پرخای باید د پرمخ وړلو یو نقش د نورو کارکوونکو سره په مشارکت کې ولري.
- د کابل ښاري سیمه له غیر منظمې ښاري ګډوډۍ سره مخامخ ده. ښاري وده په زیاتیدونکې توګه د عامه او شخصي، رسمي اوغیر رسمي او دولتي او مدني ټولنې ترمنځ حدود مبهم او ناڅرګند کړي دي. د ښاري پرمختیا لپاره لازمه ده د حکومتوالۍ په ګډو هڅو د ښاري ملي پالیسیو په ملاتړ نوي بنې رامنځته شي.
- هیڅ یوه مرکزي یا په بشپړه غیرمتمرکزه بیلګه د ښاري حکومتوالۍ د حل اغیزمنه لاره نه ده. باید د تشکیلاتي تدابیرو پرمختیا ته چې په مشخصو ښاري او ملي شرایطو کې کار وکړي زیاته پاملرنه واوړي.
- باید په عامه تصمیم نیونه او د ادارو د حساب ورکول رامنځته کول د اساسي مقاصدو له جملې څخه وي. سیمه ییز ځواب ویوونکي او اغیزمن بنسټونه د اغیزمن مشارکت د رامنځته کولو او د ملاتړ د تنظیم او د ښاریانو زیاته ونډه اخستنه ضروري ده.
- د داسې ننګونو په مدیریت کې ملي او سیمه ییز حکومتونه مسوولیت لري څو د بدلون بهیر پرمخ یوسي او مدیریت یې کړي. څو هغوی دغه کار یوازې د لارښودونو او د ملي منسجمو پالیسیو په ملاتړ تر سره کولای شي. د افغانستان ښارونه د اسیایي زیاترو ښارونو په څیر د تنظیمونکو قوانینو په چوکاټ کې او د زړو تشکیلاتي تدابیرو له لارې مدیریت کیږي.
- لازمه ده د سیمه ییزو او مرکزي حکومتونو ترمنځ د قدرت د ویش تشې، د سیمه ییزو حکومتونو د بودجې تمویل او پانګې اچونې د ظرفیت تشې او د پرمختګ او ښاري راتلونکې په پام کې د پلان جوړونې د ترویج تشې ته رسیدنه وشي.

## راتلونکې ته لیکنه:

- د کابل د ښاري سیمې د ننګوونو او ظرفیتونو په باب په مشترک درک باندې د لاسرسي لپاره سروې او پرمختللې څېړنه د پلازمینې او اقتصادي پرمختیا د اصلي محرک په توګه.
- جمهور رئیس ته راپور وړاندی کول او د کابل ښار د ستر انجمن د رامنځته کولو د منظورۍ ترلاسه کول له ټولو اصلي شریکانو سره او د فني دارالانشا په ملاتړ .
- د ښار په ستره پیمانه لومړنی لیدلوری د ښار د سترې ودې د پرمختیا په توګه او د بدلون وړ ستر انتخاب، د کابل ښار د ښاري لومړیتوب له

د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام د ښاری لومړیتوب د ملی پروګرام په انکشاف کی کمک کوی چی دا به را روانه لسیزه کی د افغانستان د ښاری لومړیتوب برخه وی دی لومړیتوبونو کی به د افغانستان د ښارونو راتلونکی پروګرام ۵ ښاری زونونو او ۲۰ ستراتیژیکو ولسوالیو ښاروالی تحلیل او تجزیه کیژی چی مهم معلومات او دقیق ارقام به لاس ته راشی اود موثری پالیسي او ملی پروګرامونو په ترتیبولو کی به وړاندیزونه وشی .

© ۲۰۱۶ دغه مباحثي پاڼه یوازی د غیر تجارتی موخه لپاره د ملګرو ملتونو د بشر د میشته کیدنی پروګرام په لیکل شوی ژمنی سره امکان لری چی تکثیر، انتقال او یا د بیا پیدا کیدو سیستم کی وساتل شی. کوم تعریفات، څیړنه، نتیجه ګیری او سفارشونه په دی نشریه کی د ملګرو ملتونود میشته کیدنی پروګرام د لارښوونی شورا ، د دی پروګرام د غړو هیوادونو او یا د افغانستان، استرلیا او انګلستان حکومتونو د نظریاتو ښکارندونی نه دي.